لوګر
ماهنامه

میاشتنۍ خپرونه

Monthly
Logar

سه شنبه د۱۳۹۸ کال دسلواغې میاشتې لومړۍ، د ۲۰۲۰ عیسوي کال دجنوري یویشتمه

۴

پرله پسې ګڼه (۱۰۹) لومړی کال، اتمه ګڼه

دهېواد دنامتو ممثل او کومیډین
اروابناد محمد آصف « جلالي» ژوندلیک

اروابناد محمدآصف جلالي په (۱۳۴۲هـ.ل) کال دلوګرولایت دمحمدآغې ولسوالۍ د دهنو په کلي کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې، آصف جلالي تر منځني ښوونځي پورې زده کړې په خپله سیمه (دهنو کلي) کې سرته ورسولې او نورې ثانوي زده کړې یې کله چې له خپلې کورنۍ سره د جګړو له کبله کابل ته وکوچیده، نو پاتې زده کړې یې هملته بشپړې کړې.

آصف جلالي لوړې زده کړې د کابل په تخنیکم کې یو ټولګی ولوست او د اقتصاد دکمزورۍ له امله یې ونشوای کړای چې پاتې لوړې زده کړې بشپړې کړي، نوموړي د خپلې کورنۍ اقتصادي اړتیاوې په پوره کولو دبارورونکي موټر چلوونکی او له همدې لارې به یې خپل اقتصادي ژوند پرمخ بیول او روزګار یې پرې جوړه ؤ.

آصف جلالي د طالبانو د واکمنۍ په دوران کې له بیوزلۍ اوفقر سره مخ شو او په برکې برک ولسوالۍ کې له خپل ماما سره دتیرو ایستلو په کان کې بوخت او تیرې به یې خرڅولې.

کله چې د طالبانو نظام راوپرځیدل، آصف جلالي دراډیو افغانستان د هنر او ادبیاتو په اداره کې دممثل په توګه دنده پیل کړه، همدارنګه د بلبل او میرک په نوم فلمونو کې هم پراخه ونډه درلوده اوله هغې وروسته په طلوع ټلویزیون کې د خنده بازار تفریحي پروګرام تکړه، هنروال او داور په توګه دپروګرام چلوونکو له ډلې څخه شمیرل کیده. نوموړي په یاد تفریحي او طنزي پروګرام کې د ډیرو هېوادوالو په شونډو مسکاوې خورې کړې وې، چې له همدې امله یې ډیر مینوال په ځان راجلب کړي ؤ.

جلالي په غیر رسمي ډول څو نورو رسنیو سره هم د خپل هنر په کارولو ډیری فعالیتونه ترسره کړي دي همدارازپه افغان سوداګریزو اعلانونو کې دبازارموندنې لپاره ځان کله کله خلکو ته ښکاره کاوه، چې دغه اعلانونه دسوداګرو دتوکو په پیر او پلور کې هم مثبت رول یادولای شو.

آصف جلالي چې په کاکا آصف هم مشهور ؤ، په خورشید خصوصي ټلویزیون د شبخند تفریحي پروګرام کې ستره ونډه درلوده، چې دهېواد هنري او فرهنګي ستورو ته به بلنه ورکول کیدل، نو جلالي به ورسره ګپ اوشپ، همدارنګه ټوکې-ټکالې به یې کولې، چې نوموړي به دهنري او تفریحي پروګرامونو په وړاندې کولو او طنز ویلوسره په هېواد کې ورځ تربلې د ده مینوال زیاتیدل.

اروابناد جلالي د۱۳۹۸ هـ.ل کال دمرغومې په ۱۱مه د۵۲ کلونو په عمر کابل کې د زړه دحملې له کبله ومړ او له دې فانۍ نړۍ سره یې مخه ښه وکړه.

داروابناد جلالي جنازه دکابل ښار په عیدګا جومات کې اداء شوه، چې د جنازې په مراسمو کې فرهنګي او دده مینوالو ګډون کړي ؤ، له نوموړي شپږ اولادونه پاتې شول چې څلور یې هلکان او دوه یې نجوني دي.

دجلالي نه شتون دهېواد دسینمایي ستورو په ډګرکې لویه ضایعه ده، چې دهېوادوالو هغه مسکاوې چې د دوی پر شونډو یې راتلې نور به دجلالي طنزي هنر نه وي، خو بیا هم ډیري هنري ستورې شته، چې دجلالي ځای ناستې واوسي.

اروابې ښاده جنت یې ځای!

تاثیر رسانه ها بر افکار عمومی درجامعه

بحث مهم در ارتباطات و تاثیر رسانه ها در افکار عمومی بسیار ارزنده است، در ارتباطات عمومی بحث این است که مردم در مورد چه سخن می گوید و به چه فکر می کند ،مردم در باره آنچه که رسانه ها نشر می کند ، گفتگو میکند و فکر می کند و یا اینکه مصاحبه میکند جامعه دارای قدرت انتخاب می باشد و خود موضوعات و سوژه ها و فکر کردن خود را پیدا می کند. این موضوع یکی از موضوعات اساسی در ارتباطات عمومی می باشد. بررسی این موضوع یک نوع نگاهی به تاثیر گذاری رسانه ها بر مردم وجامعه نیز رول اساسی دارد.

تامین ارتباط نیازمند وسیله ارتباطی است و رسانه های همگانی امروز منحیث وسیله ارتباطی یا وسیله ای که پیام را از فرستنده به گیرنده انتقال میدهد رابطه نزدیک با مردم دارد. کشورما از راه های مختلف با رسانه ها در تماس هستند از آموزش گرفته تا سیاست، اقتصاد ، تجارت ، سرگرمی تفریحی ، هنری، فرهنگی وغیره هرنوع رسانه چون انترنت، فیسبوک ، تلویزیون ، رادیو ،کتاب ، اخبار ،مجله وغیره به شیوه های خوب دربین مردم وجامعه خود راه را باز نموده است.

در مورد تاثیر گذاری رسانه ها بر افکار عمومی نظریه های متفاوتی وجود دارد وبرخی ها تاثیر رسانه ها را در افکار عمومی را مطلق می دانند ومیگویند که رسانه ها اولویت های فکری مردم را تعین می کند و رسانه ها را تاثیر گذار ترین عامل تعین کننده افکار عمومی دانسته اند.

اکنون سوال دراینجا است که تاثیر رسانه ها در جامعه ما چگونه است، آیا رسانه ها تاثیر گذاری مطلق دارد و یا اینکه مردم قدرت انتخاب دارند و یا اینکه تعامل دو سویه میان رسانه ها و مردم وجود دارد. برای پاسخ به این سوال باید جامعه را به دو دسته با سواد و بی سواد تقسیم بندی نمود و به همه درکشور هویدا است که آمار بی سوادی بیشتر است.

در میان باسوادان نیز تعداد محدودی قدرت انتخاب دارند ، بنابراین می توان گفت که جامعه افغانستان بیشتر ویژگی های جامعه توده ای را دارد ، رسانه ها در افغانستان به صورت حرفه ای کار نمی کند به همین خاطر می توان این مسئله را مطرح نمود که رسانه ها به صورت سازمان یافته نمی تواند در ذهن مردم رسوخ نمایند ، زیرا عدم حرفه ای بودن رسانه ها باعث می شود که مردم نتوانند با رسانه ها ارتباط برقرار نمایند.

به نظر می رسد که در کشورما ، رسانه ها اهمیت دارند و مهمترین ابزار ارتباط عمومی می باشند و تا حدی می تواند اولویت های فکری و عملی مردم را مشخص نمایند اما غیر حرفه ای بودن آن باعث شده است که مردم کمتر بتواند با رسانه ها ارتباط برقرار نمایند.

در سال های اخیر ، رسانه ها و شبکه های اجتماعی جدید تا حد توانسته است بخش از مردم را انسجام بخشند و افکار و رفتار های آن ها را در راستای جهت بدهند.

در پایان باید متذکر شد که در دوره جدید رسانه ها به صورت گسترده به فعالیت آغاز نموده است و توانسته است تا حدی تاثیر بر افکار عمومی بگذارد.

درنتیجه میتوان گفت که پیامدهای رسانه ها درزندگی انسان رول عمده واساسی دارد ، اگریک رسانه به شکل موثروکارا اطلاع دهی نماید وبرنامه های خبری، سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، دینی، فرهنگی، تعلیمی وغیره ... شانرا بادرنظرداشت ارزش های دینی، فرهنگی واجتماعی تهیه ونشر نمایند ، افکارعامه را بیشتردرنگرش مثبت به زندگی سوق خواهد داد.

همچنان اگررسانه ها بدون درنظرداشت معیارهای اخلاقی، فرهنگی، دینی واجتماعی نشرات نمایند باکثرت گیرندگان این وسیله پیام رسانی که به زود ترین وقت پیام را به جمع کثیری ازمردم می رساند توده های ازمردم وجوامع را بسوی منکرات رهنمود خواهد کرد ، پس ایجاب مینماید که همه دست اندرکاران رسانه ها روی این باورها باید تمرکزودقت بیشتر نمایند.

نویسنده : امین الله «صفا»

په اسلام کې دسولې ارزښت

لیکنه :عبدالمقصود «عزیزي»

جګړه او سوله د انسانانو له ژوند سره سمه راروانه ده، سوله د جګړې ضد کلیمه ده، په جګړه کې انسان وژنه، بربادي، او ناخوالې وي، ټولنیز ژوند له ګډوډیو سره مخامخ کوي، په سوله کې آرامي، خواخوږي، سوکالي او امن وي .

سوله ټولنیز ژوند تنظیموي او د جګړې ناخوالې له منځه وړي، جګړه دتباهۍ او بربادۍ نوم دی او سوله د آرامۍ او ودانۍ ضمانت کوي، جګړه نه ګټه لري اونه ګټل، سوله نه ماته لري او نه بایلل. سوله د صلحې، په ښه یوه عربي کلیمه ده، چې ماناوې ډیرې لري، خو یوه مانایې ډیره کارول کیږي، هغه د جنګ جګړې بندول دي.

سوله د جنګ بندولو ، د شخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول یا سوله هغه ترون دی، چې جنګ او شخړې پرې ختمیږي، که په کوم ځای کې سوله نه وي نوهلته خلک یو له بل سره په جګړه اخته وي.

د ژوندانه ټول ورځني کارونه نشي کولای او خلک دې ته اړکیږي، چې لرې ځایونو ته مهاجر شي او ژوند په سختۍ سره تیرکړي، په جګړه کې خلک وژل کیږي، مینډې او پلرونه بې اولاده کیږي. ماشومان بې پلاره او بې موره کیږي، په جګړه کې خلک د ټوپک په ژبه غږیږي او په ځمکوکې د غنمو پرځای بمونه او ماینونه کري، په ماینونو زرګونه خلک وژل کیږي او ځینې خپل لاسونه، سترګې او پښې پکې له لاسه ورکوي. دا ماینونه د خلکو ژوند اخلي او هیواد ورانوي، که سوله نه وي، خلک خپه او ژوند په سختۍ سره تیریږي .

د سولې په اړه په قرآن کې زیات روایتونه راغلي دي لکه چې الله تعالی فرمایي [وصلح خیر] ژباړه: په صلحه کې خیردی، بل ځای کې مسلمانان په خپلو منځونو کې سولې ته هڅول شوي دي او یوبل سره د مینې محبت ژوند تیرولو ویل شوي دي او له کینې حسد او بعض څخه منع شوي دي.

الله(ج)فرمایلي دي. ژباړه: بیشکه مومنان سره ورونه دي نو د خپلوورونو په منځ کې روغه راولئ اوله الله نه وویریږئ، چې پرتاسې رحم وکړي. ای مومنانو ! نه دې نارینه پرنورونارینه وو ټوکې اوملنډې وهي، کیدای شي چې هغو دې له دوی نه غوره وي او نه دې ښځې په نورو ښځو پورې ټوکې او ملنډې وهي، کیدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي په خپلوکې یو د بل عیب مه وایئ او مه یو بل په بدو، نومونو سره یادوئ له ایمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پیدا کول ډیره بده خبره ده او هغه کسان چې له دغه کار څخه توبه ونه کړي (راوانه وړي) نوهغوی ظالمان دي.

(سورت الحجرات ۱۱-۱۰)

همدارنګه په پښتو شعرونو کې له لرغونو زمانو څخه رانیولې ترننه پورې سوله اوامن ستایل شوی جنګ یې غندلی او سولې ته یې خلک رابللي دي، دمنځنۍ دورې یو شاعرملا جان فدوي هوتک جګړه ماروته دسولې په هکله داسې وایي:

عارفان کړي له جهانه سره سوله
تاترلی په جهان دسولې وردی

همدارنګه دپښتو ژبې پخوانیو او سنیو شاعرانو مشهورولیکوالانو هیڅکله سوله له پامه نده غورځولې او تل یې د سولې لپاره ریښتینې هلې ځلې کړې دي، چې ددغه له جملې څخه مونږ د اوسني وخت د مشهورلیکوال ګل آغا احمدي د هڅو یادونه کولای شو، چې یواځې د سولې په اړه یې په لسګونو کتابونه او ګڼ شمیرمقالې لیکلې دي، ولس او په ځانګړې توګه د ټولنې ځوان قشر یې د سولې او وورولۍ خواته تشویق کړې دي، چې دده د سولې د کتابونو څخه مونږ د یو څو یادونه کولای شو. سوله په حدیثونوکې، سوله په شعرونوکې، سوله په مکتبونوکې، سوله په آیاتونوکې اونور...

دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ په ریاست کې د ویاندی او خبریالۍ زده کړه ییز پروګرام پیل شو

دمرغومي ۲۱ مه : د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په نوښت او د اسلا او لنګن اداره په مرسته شا اوخوا ۶۰ تنو ځوانانو ته د وینا فن، انانسرۍ او خبریالۍ په برخه کې د مجربو استادانو او د لوګر د ژورنالیستانو له خوا یوه میاشتنی ښوونیز پروګرام پیل شو .

په دې پروګرام کې د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل په ګډون د لوګر ولایت د ژورنالیستانو د ټولنې او زینت راډیو رییس نورالله ستانکزي، په لوګر کې د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې رییس او د مهال راډیو د خپرونو مسول خان ولي احمدزي، د ځوانانو په پارلمان کې استازي لطف الله تایب او نورو ځوانانو ګډون کړئ ؤ.

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل ځوانان خپلو راتلوونکو فرصتونو ته متوجې کړل او زیاته یې کړه، موږ باید د عقیدوي ځوانانو ترڅنګ عملي ځوانان هم لاس پکارشو،تر څو په عمل کې خپلې ټولنې ته کار وکړو، تسل ځوانانو ته په خپلې وینا کې وړاندې وویل ټول ځوانان لوړې وړتیاوې لري خو مهمه داده چې همدغه وړتیاوې په عمل کې ثابتې کړي .

د ځوانانو پارلمان کې د لوګر استازي لطف الله تایب دا ډول پروګرامونه اړین او مهم وګڼل او د اطلاعاتو او فرهنګ دغه اقدام یې یو نیک ګام وباله .

تایب زمنه وکړه ،چې د میاشتې په اوږدو کې به یوه ورځ د وینا په تړاو خپلې تجربې له همدې ځوانانو سره د لکچر په توګه شریکې کړي . د لوګر ولایت د ژورنالیستانو ټولنې مشر نورالله ستانکزي دغه ډول ښوونیز پروګرامونه د ځوانانو لپاره ښه فرصت په ګوته کړ او زیاته یې کړه، چې د همدې ځوانانو د استعدادونو په غوړولو کې به خپلې مرستې دریغ نه کړي. نوموړي وویل له یوې میاشتې درس وروسته به لس تنو ځوانانو ته په زینت راډیو کې ددې فرصت ورکړي، چې له خپلو زده کړو په عملي توګه ګټنه وکړي او دغه راز ستانکزي زیاته کړه، چې د پروګرام په لړ کې به د راډیو تکړه ژورنالیستانو ته دنده وسپاري چې په همدې ښوونیز پروګرام کې له ځوانانو سره عملي کار وکړي .

د یادونې وړ دی، چې په لوګر کې د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې مشر او د مهال راډیو د نشراتو مسؤل مدیر خان ولي احمدزي د دوه سکالرشیپونه زمنه وکړه چې وړ کسان به له همدې ځوانانو څخه په مهال راډیو کې په کار وګماري . د یوې ورځې تدریس چاره یې هم په غاړه واخیسته او دغه راز ځوانانو ته د عملي کار د ور زده کولو لپاره به خپل ژورنالیستان اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته را لیږي، ترڅو ځوانانو ته عملي کار ور زده کړي .

د یاد پروګرام چارې د ژورنالیزم پوهنځي دوه تنه ځوانانو سیدعبیدالله او حشمت الله لخوا مخ ته وړل کیږي او د پروګرام په جریان کې به د لوګر تکړه ژورنالیستان هم یوه یوه ورځ خپلې تجربې له ګډونوالو سره شریکې کړي او د ښوونیز پروګرام په اخیر کې به منلي اسناد په ګډونوالو وویشل شي.

دلوګر ولایت دجلب اوجذب قوماندانی خبرتیا !

د لوګر ولایت ټولو شریفو، وطن پالو، باغیرته او مجاهد پرور مشرانو او ځوانانوته خبرورکول کیږي، لکه څنګه چې تاسوته دا روښانه ده، چې دوطن خدمت کول اسلامي او ملي وجیبه ده، په لاندې شرایطو برابرکسان کولی شي هره ورځ دوسله وال پوځ پرلیکو کې دشاملیدلو په موخه د لوګرولایت د جلب اوجذب قوماندانی ته مراجعه وکړي زمونږ دروازې ستاسو پرمخ خلاصې دي .

شرطونه :

۱ـ دیوځوان عمر باید له (۱۸) کالونو څخه شروع تر(۴۴)کالو پورې وي .
۲ـ د تابعت تذکره ولري .
۳ـ به نشه یي توګو روږدي نه وي .
۴ـ معیوب او معلول نه وي .
۵ـ فزیکي او جسمي توانایي ولري .
۶ـ هغه ځوان چې د تعلیم کچه یې د (لسم) ټولګي څخه او یا تر (دولسم) ټولګي پورې وي د بریدملي کورسونو ته معرفي کیږي او وروسته یو برجسته او وطن پال منسوب ترینه جوړیږي، چې دخپلې کورنۍ او وطن لپاره د خدمت جوګه و ګرځي .

اطلاعیه ریاست حفاظت محیط زیست ولایت لوګر

با رعایت ماده پانزده هم قانون اساسی افغانستان و ماده بیست هفتم قانون محیط زیست و حکم شماره (2783) مورخ 1398/10/14 مقام عالی ریاست جمهوری به منظور جلوگیری از آلودگی هوا کاهش عوامل مخرب بر آن و حفاظت از محیط زیست سوختاندن تایر، رابر و پلاستیک غرض تسخین و تولید انرژی منع قرار داده شده است .

بناً تمام اصناف مختلف شهری که در فعالیت های کاری شان از مواد سوختی استفاده مینمایند، مانند مالکین (حمام ها، هوتل ها، کلچه پزی ها ، نانوایی ها، داش های خشت پزی، مارکیت ها و دکان داران، شرکت ها و فابریکات) مکلف اند تا از سوختاندن تایر، رابر و پلاستیک غرض تسخین و تولید انرژی جلوگیری نماید در غیرآن با متخلفین مطابق به قوانین نافذه کشور برخورد صورت خواهد گرفت .

ریاست حفاظت محیط زیست ولایت لوګر

د امتیاز خاوند : لوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست Logar لوګر

مسؤل مدیر : شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

کتونکي ډله : عبدالرحمن «تسل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»

خبریال : محمد موسی «عدیل»

ډیزاینر : امینی «ستانکزی»

فیسبوک پاڼې: دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست /www.facebook.com
لوګرمیاشتنۍ / www.facebook.com

یادونه : لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده .

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.

دارېکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرښنالیک پته : Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای: آزادۍ مطبعه